**پوښتنه - د مطالعې په اړه د ټراټسکی څه نظر وه؟(۲۹میی ۱۹۲۳)**

ځواب-

ګرانو ملګریو !

تاسو ګله کړي وه، چې تاسو د خپلې خوښې ۱۰٪سلنه کتابونه هم نه دي لوستلي، او تاسو پوښتلي دی چې دغې لپاره یو مناسب مهال وېش څنګه جوړ کړای شي. دغه یو ډېره پیچلې پوښتنه ده ځکه چې د دغه پریکړه هر شخص د خپلو مخصوصواړتیاو او جالبتیا ته په کتلو سره په خپله کوي. خو بیا هم دلته د دې خبرې یادونه اړینه ګڼم چې یو سړی څنګه د موجوده ادب په اړه با خبره پاتې کیدلی شي. که هغه ساینسي دی یا سیاسي او یا بل څه- د نوموړي کړه وړه یوازې د وخت په مناسب تجزیه باندی نشي کیدلی خو د هغه سړي په سابقه روزنه باندې هم. ترکومه چې ستاسو د پارټیوته(د ځوانانوګوند ) په اړه حواله ده، نو زه یوازې دومره مشوره در کولای شم چې تاسو د ټُندوالی څخه کار مه اخلي. او ځانونه ډېر مه خوروی. د یو موضوع په پرېښودلو بلط موضوع ته تیښته مه کوي. او بل یو کتاب تر هغه مه پیل کوي، چې تر څو مو لومړی کتاب خلاص کړای نه وي، تر هغه چې تر څو مو پر مفهموم او مانا بشپړ غور او فکر، او پکې مسلکی شوي نه وی. ماته په را زړه دی چې زه کله ځوان وم نو ما هم فکر کول چې ما سره پریمانه وخت نشته. تر دې چې زه په زندان کې وم، نو ما فکر کول چې زه کله ټوله ورځ مطالعه کوم، نو بیا هم دا زما لپاره کافي نه ده.

داقتصادي څانګې په څیر په نظریاتي څانګه کې هم تر ټولو مشکل او وخت غوښتونکې مرحله د لومړی سرمایی راغونډول وي. یوازې د علم مخصوص عناصر(لکه د کار طریقه) باندی بشپړه لاس واکی. وروسته دغه د خپلو فکري کړونو اړین جز ګرځولو وروسته نه تاسو د دغه څانګی ادب باندی پوهیدلی شي. چې تاسو ترې خبر یاستی. بلکې د علم پرهغه څانګو هم تاسو پوهیدلی شي. چې له دې تو پیر لري.ځکه چې په ورستی تجزیه کې د کار طریقه تل یو شان وي.

ښه خبره دا ده چې یو کتاب ولوستلی شي او بله ښه خبره دا ده چې په یو وخت کې پر یو وړې خبرې په بشپړه توګه برلاسي اوسېږی. یوازې هم دا لاره ده چې د پوهیدلو اعصابی استعدادنه په رښتیا هم په دغه فطری اوضاع کې وده وکړي. خو په یو بل پسی باور لاس ته راوړی او وده به وکړي. دغه لومړنی خبره په ذهن کې پر ځای کولو وروسته تاسو کولای شي، ځان ته په اسانی سره یو مهال وېش جوړ کړی. او بیا دیوې جالبتیا څخه بلې ته لاس رسی به تاسو ته یو جالب خوند درکړي.